SHARIAT WEEKLY
شريعت
اوونيزه
په اووني کي دوه ځله خپريږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان
څلورم کال شپږمه گڼه پرله پسي (۱۹۵) شنبه د ۱۴۱۹هق کال د رمضان المبارك (۲۲) د ۱۳۷۷هـ ش کال د مرغومي دمياشتي (۱۹) د ۱۹۹۹ميلادي کال دجنوري (۹)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډير نږدې دی تقوا(پرهيزگاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

بقول يك شاهد عيني :

جنگهاي ذات البيني مليشه ها و چورو چپاول اموال مردم در شهر چاريکار اهالي آنجا را به مرگ راضي ساخته است

بنابر قول يك شاهد عيني که اخيراً از شهر چاريکار ديدن نموده اوضاع شهر از طرف روز و شب خيلي وحشيانه تلقي گرديده و اهالي مظلوم شهر چاريکار از آن وحشيگري ها به مرگ خود راضي گرديده اند.

شاهد مذکور مي افزايد : مليشه هاي باغي گروهك نظار در طول روز در شهر چاريکار و امتداد پوسته هاي امنيتي خود اموال مردم بيچاره را به جبر و زور از آنها گرفته و از طرف شب به منازل مسکوني شهر چاريکار

به قصد سرقت حمله ورشده و اموال مردم را به يغما مي برند، همچنان درگيري هاي مسلحانه تفنگداران باغي بر سر استقرار پوسته هاي چورو چپاول در مناطق يکديگر وقتاً فوقتاً رخ داده و يکديگر را س ٤

د سرپرستي شورې د مرستيال له خوا:

دافغاني سري مياشتي د عالي پوهنې مرکزي روغتون پرانستل شو

محترم مولوي عبدالکبير د افغاني سري مياشتي د عالي پوهنې مرکزي روغتون پرانست.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : د کابل ښار په تهيه مسکن کي د افغاني سري مياشتي د عالي پوهنې مرکزي روغتون چي د تير رژيم د جگړو له امله زيانمن شوي و، د اسلامي امارت د چارواکو او ددغې پوهنې د پاملرنې له ٤ مخ

په سنگ نوشته کي د يوه ماين د چاوديدلو له امله :

دري تنه کوچنيان شهيدان شول

دري تنه معصوم او بي گناه ماشومان چي د يوتو د راټولولو لپاره له خپلو کورونو څخه بهر راوتلي وو د سنگ نوشتي په سيمه کي د ماين قرباني او شهيدان شول . انا لله و ...

د سنگ نوشتي د سيمي اوسيدونکي محمد حليم د محمداجان زوی، محمد اسمعيل د قدرت الله زوي او ميرويس د ارسلا زوي چي تيره ورځ د يوتو او ٤ مخ

شورشيان کانگو پنجصد نفر را قتل عام کردند

شورشيان کانگو طي سه روز گذشته پنجصد نفر را در شرق آنکشور قتل عام کردند.

شورشيان جمهوري دموکراتيك کانگو که از حمايه سربازان روندا برخوردار اند حتي اطفال خورد را در قريه ماکوبولا به گلوله بستند و با آنها زير لت و کوب جان سپردند.

در ميان کشته شده گان کشيش قريه مذکور و هشت فرزند وي ديده ميشوند.

بر قول شاهدان عيني تمام اعضاي فاميل مذکور قتل عام شدند که ص ٤

به گراميداشت از عيد سعيد فطر و به تأسي از هدايت عاليقدر امير المؤمنين :

دو صد تن از محبوسين گروه هاي مخالف امارت اسلامي از محبس پلچرخي رها گرديدند

دو صد تن از محبوسين گروه هاي مخالف امارت اسلامي که قبلاً اسير شده بودند بم گراميداشت از عيد سعيد فطر و بتأسي از هدايت عاليقدر امير المؤمنين به تاريخ ۲۰ ماه جاري از محبس پلچرخي رها گرديدند.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : محبوسين رها شده که متشکل از افراد گروه هاي مخالف امارت اسلامي ميباشند بعد از تجويز محکمه نظامي توسط محترم مولوي سيد عبدالرحمن آغا رئيس و قاضي محکمه نظامي از محبس پلچرخي رها گرديدند.

محبوسين آزاد شده ازاين اقدام نيك و خير انديشانه مقام محترم امارت اسلامي ابراز خورسندي نموده و اطمينان دادند که در کنار امارت و مردم خويش قرار گرفته بخاطر تحقق اهداف اسلامي در کشور مجاهدت مي نمايند.

در هنگام رهايي محبوسين محترم الحاج ملا نور علي رئيس استخبارات نظامي ، محترم ملا محبوب الله و برخي از مسئولين ديگر امور نيز حاضر بودند.

په کندز کي د اسلامي امارت څلور شپيته تنه مخالفين له زندان نه آزاد شول

د اسلامي امارت د مخالفو ډلو څلور شپيته تنه بنديان د رمضان المبارك په شلمه د کندز ولايت د استخباراتو د رياست له نظارت خانې نه آزاد شول .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ: د نيکمرغي کوچني اختر په درناوي او د عاليقدر امير المؤمنين له لار ښووني سره سم د اسلامي امارت د مخالفو ٤ مخ

نظاميان اشغالگر اسرائيلي در يك قريه سرحدي جنوب لبنان چهارده باب منزل را تخريب نمودند

نظاميان اشغالگر اسرائيلي شب گذشته بر يك قريه سرحدي در جنوب لبنان هجوم برده و چهارده باب منزل اهالي آن قريه را تخريب نمودند.

به گفته پوليس لبنان سربازان اسرائيلي همراه با دو عراده بلدوزر داخل قريه ارنون ٤ مخ

در تحصيل عوايد گمرك ولايت پکتيکا نسبت به سال گذشته :

مبلغ يك مليارد و چهل مليون افغاني زيادت بعمل آمده است

در تحصيل عوايد گمرك ولايت پکتيکا نسبت به سال گذشته مبلغ يك مليارد و چهل مليون افغاني زيادت بعمل آمده است مبلغ يك مليارد و چهل مليون افغاني زيادت بعمل آمده است ٤ مخ

په يوگنداکي :

د يو تن ياغي د وژلو په سر پنځوس دالره!! انعام ټاکل شويدي

د يوگندا اردو هغو کسانو ته چي دري تنه ياغيان ووژني دوه سوه امريکايي ډالره انعام ورکوي.

يوي دولتي ورځپاني ليکلي دي چي ياغيان د يوگندا په لويديځه برخه کي د مرکزي دولت پر ضد جگړي ته دوام ورکوي.

يوه يوگندايي قوماندان په يوه غونډه کي د خلکو له استازو سره د کتني په ٤ مخ

د ادبي کره کتني غونډه جوړه شوه

د روان سپوږمیز هجري کال د رمضان المبارك د مياشتي په ۱۹ مه نيټه د چهارشنبي په ورځ د شعر او ادب د اداري په نوښت د ادبي کره کتني غونډه جوړه شوه .

غونډه د آسماني ستري معجزي عظيم الشان قرآن د ځومبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل شوه، وروسته د هيواد ځوان شاعر ٤ مخ

محترم ذبيح الله امانيار مسؤول آرشيف نشراتي راديو صداي شريعت در مصاحبه با خبرنگار هفته نامه شريعت :

خواستم تا تاريخ شفاهي واتعات غم انگيز دوران کمونستها را براي آينده ها ثبت نمايم

خواهش ما اين است که اگر کسي راجع به مظالم کمونستها خاطره، داشته باشد به خاطر ثبت آن به آرشيف نشراتي راديو صداي شريعت مراجعه نمايد

خواننده گان محترم ! قراريکه آگاهي داريد درين اواخر راديو صداي شريعت تحت زيگنال چهره ها و خاطره ها برنامه جالب و تاريخي را به نشر ميرسانند که مورد توجه اکثر مردم قرار گرفته و همه مردم اين برنامه را که به ساعت ۸:۳۰ هر شام چهارشنبه از طرف آرشيف نشراتي اين راديو به نشر ميرسد ميشنوند خواستيم جهت معلومات مزيد شما خواننده گان عزيز مصاحبه، را با مسؤولين اين برنامه انجام دهيم که اينك خبرنگار ما صحبت مختصري با مسؤول اين برنامه ، محترم ذبيح الله امانيار ص ٤

د کابل د ژوبڼ (باغ وحش) مسؤول له شريعت اوونيزي سره په مرکه کي :

د کابل په ژوبڼ کي ديارلس ډوله حيوانات او مرغان موجود دي

تير کال زموږ يوه هيواد وال د بڼ لپاره شل قفسونه جوړ کړل بل چا تر اوسه له موږ سره هيڅ مرسته نه ده کړي

د کابل ژوبڼ د کابل ښار په لويديځه ښايسته سيمه کي پروت دي د کابل سيند چي ددي بڼ تر شا بهيږي د نوموړي باغ ښکلا يي يو په دوه کړيده زموږ خبريال د باغ د ليدو په ترڅ کي د هغه له مسؤول سره يو مرکه هم کړيده زموږ خبريال په دي هکله ليکي:

کله چي زه د باغ پاخه انگړ ته داخل شوم نو ومي ليدل چي د باغ په يوه محدوده ساحه کي گڼ شمير کسان د حيواناتو د سيل لپاره راټول شوي وو داځکه چي د باغ نوري برخي د تيرو جگړو له امله وران او ويجاړ شوي وو ما د نوموړي باغ له مسؤول ښاغلي شير آقا څخه د باغ په هکله ځيني معلومات تر لاسه کړل چي دا دي ٤ مخ

له يو زرو دوه سوه متره لوړي څوکي نه څخه راغورځيدلي ځوان ژوندي پاتي شو

يو ځوان انگليسي کوهنورد په واوره باندي له يو ښل شويو لوړو څوکو څخه له رالويدو وروسته په حيرانونکي ډول ژوندي پاتي شوي دي. ساراودراك شل کلن انگريزي محصل چي په اسکاتلند کي يي د بريان نايتسيان يو زرو دوه سوه متري څوکي ته نږدي کوهنوردي کوله چي له واوري څخه له پوښلي څوکي د څخه راولويد ليکن يوازي يي د اورميږ يو هډوکي مات شو .

له اوو ساعتونو وروسته چي د ژغورني ټيم دغه ځوان کوهنورد پيدا کړ له دغسي لوړي څخه ٤ مخ

د کابل د اوروژني د رياست خبرتيا

د ژمي په يخني کي د اورلگيدني د پيښو د مخنيوي په خاطر د اسلامي امارت ټولو وزارتونو موسسو رسمي دايرو شخصي موسسو فابريکو هوټلونو د کانونو د تيلو پمپ استيشنونو او محترمو هيوادوالو ته خبر ورکول کيږي چي دغه ټکي په پام کي ونيسي.

د بريښنا ټولو سوچونه ساکټونه او فيوزونه دي هر وخت کنترول کړي تر څو د بريښنا د شارټي مخنيوي وشي.

له دفترونو او کورونو نه د وتلو په وخت کي دي د بريښنا پول ٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د جهاد د تاوده سنگر د سختو او ترخو شپو خواږه ملگري

دا د اسلامي جهاد ځانگړي خصوصيت دي چي د سنگر ريښتيني مجاهدين درسره خواږه او يو بل ته گران وي؛ داسي ډيري پيښي او شواهد شته چي د جگړي په وخت کي د سنگر يو ملگري د دښمن په سيمه کي ټپي يا شهيد پاته شوي دي نورو ډيرو ملگرو د هغه د ژغورني په هڅه کي ځانونه شهيدان او ټپيان کړي دي، دا ددي خبري روښانه ثبوت دي چي د سنگر ملگري تر خپل ځان هم گران وي؛

د افغانستان په اسلامي خاوره د ورك شوي شوروي اتحاد غير مستقيم او بيا مخامخ تيري د نړي په تاريخ کي دومره لويه پيښه وه چي د لوي والي او تلفاتو له پلوه له نړيوالي ۲مخ

شريعت

دتأسيس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليکوال هيئت ترنظر لاندي
مسؤول مدير : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستيال : ملا أسد الله «حنيفي»
دبوي ګڼي بيه : په هيواد کي (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کی (۳) کلداری
پوست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تيلفون: ۲۰۰۷۵
په پيښور کي :دطالبانو نمايندګي تيلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : ٤-۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

دومي ځکړي سره سيالي کولاي شي. دغه ناروا يرغل ټوله نړي وخوزوله، د ملګو ملتونو مؤسسي په وار وار دغه يرغل وغانده ، په تيره بيا اسلامي نړي په سياسي ډګر کي په زړه پوري هڅي وکړي، مګر مخلصو مسلمانانو په مرسته کي نه يوازي خپلي شتمني او مسلمانو خويندو خپلي ګاڼي وته سپمولي بلکي خپلي ويني او اوښکي بي زمونږ له وينو او اوښکو سره ملګري کړي، خپل ژوند او مرګ بي زمونږ له ژوند او مرګ سره وتړل، هغسي قرباني بي ورکړي لکه زمونږ پاکو مجاهدينو چي ورکړي او هغسي بي خپل نازولي اولادونه او کورني خواري کړي لکه زمونږ د مجاهدينو چي خواري شوي، ان تر دي چي ډيرو بي خپل هيوادونه او خپلي شتمني د تل لپاره پريښودي او د جهاد په مينه کي بي زمونږ په وران ويجاړ هيواد کي فقيرانه ژوند غوره کړ؛ ،

زمونږ د سنګر له دغو قدرمنو ملګرو څخه يو هم محترم مجاهد الحاج اسامه بن لادن دي چي نن سبا بي د کلنټن حکومت د بوي لوبي پلمي په توګه يادوي، د نړي ټول تخريبي فعاليتونه په دي پوري تړي او په نړي کي بي د ټولو امريکايانو قاتل بولي مګر ددغو تورونو لپاره هيڅ ثبوت نه لري!

اصلي خبره دا ده چي کلنټن د بدلمني وريښو ستونزو دومره سر بداله کړي دي چي هر څه ته لاس اچوي، کروز توغندي په هره خوا په داسي پلمو توغوي چي د هغو پلمو هيڅ ارزښت او إعتبار نشته دي، په دغه ليوني تګلاره سره بي نه يوازي د امريکي ټول دوستان ور څخه پردي کړل بلکي ډير دښمنان بي ورته پيدا کړي نو ځکه د امريکي ولس ته ضروري ده چي نور د بوي ورځي لپاره هم کلنټن پري نه ږدي له واك نه دي وغورزوي د کلنټن حکومت د مجاهد اسامه بن لادن خبره د نړي په خبرونو کي دومره توده وساتله چي د مسعود له خولي نه بي هم اعلان کړه او مجددي صاحب بي هم تشويق کړ چي د بړاخ تاداو حکومت له انګازو سره سم يو ځل بيا ميدان ته راووت او وبي ويل چي « ... د اسامه په هکله دي دافغانستان ملت پريکړه وکړي...» موږ وايو د افغانستان مسلمان، يا تور اوميړني ولس حق لري چي د ډيرو شيانو په هکله پريکړي وکړي که دوي داسامه په هکله د پريکړي حق لري نو د هغه چا په هکله بي هم لري چي د افغان مجاهد ولس په وينو تجارت کوي او د اسامه په هکله د افغانستان د مجاهد ملت عملي پريکړه هغه ده چي په جګړه کي به بي د اور او تودو او سپنو د ګڼ باران په ترخه شيبه کي خپل د سنګر ټيي يا شهيد ملګري د دښمن له ساحي نه د څو تنو د ژوند په بيه تر لاسه کاوه او دښمن ته به بي نه وورپريښود، د افغانستان ميړني او مسلمان ملت به هرو مرو پريکړي کوي خو دا کار هلته کيداي شي چي د مفسدينو او پرديو مزدورانو لاس د دوي له ګريوانه يو مخ لنډ کړاي شي، دغه کار د پيښور جرمني ترکيبي او ... په غونډو په لکونو لکونو وته شو او هيڅ به ونه شي، دغه کار داسي د جرئت ميړو ته غواړي چي د خپل ژوند په بيه خپل ګوربدلي هيوادوال له ظالمو لوټمارانو او پردو نوکرانو نه وژغوري، دغه بي عملي او ممکن علاج دي، دغه علاج د طالبانو اسلامي تحريك هغه وخت د خپلو وينو او خپل ژوند په بيه پيل کړ چي بي شميره غونډو، جرګو او مرکو هيڅ نتيجه ورنکړه او ماتي خوړليو ذهنونو د هيواد له ګاونډ نه د اروپا په لوري مخه کړه: د طالبانو اسلامي تحريك او اسلامي امارت په دي خبره پوخ يقين لري چي په هيواد کي د پرديو پرتوکولي او کرايه شوي مزدوران زمونږ د کړيدلو هيوادوالو له ګريوان نه په هيڅ بيه لاس نه کاږي تر څوبي چي لاس غوڅ نکړاي شي نو ځکه په کي په هغو افغانانو چي په جرګو مرکو او غونډو سره ځان مطرح کول غواړي غږ کوي چي د غونډو، جرګو او اعلاتونو وخت لا ډير پخوا ختم شوي دي افغانان نور په داسي لوبو نه غوليږي او ټولي څيري بي پيژندلي دي، د افغانستان مسلمان او باتور ملت په پوره درك او ځيرکتيا سره د خپل غم خوړونکي اسلامي امارت په څنګ کي کلك ولاړ دي او ولاړ به وي، که څوك ځان ددغه ملت جز، ګڼي نو يکي بوه لاره بي دا ده چي د خپل ولس په څنګ ودريږي او خپل غږ له خپل ولس سره غبرګ کړي .

مشابهتونه او توپيرونه

پتي پاڼي

شهرت ننګيال

په کمبوديا کي د سره خمير ډلي ورورستي قوماندان له خپلو وسله والو سره د کمبوديا حکومت ته تسليم شو، په کمبوديا کي د ملي حکومت له جوړيدو وروسته دا د سره خمير وروستي وسله واله ډله وه چي د کمبوديا له پوځ سره يو ځاي او يدي توګه د سره خمير ديرش زره کسيزه وسله واله ډله ټوله په وسله وال ځواك کي ادغام شوه . وروستي ډله چي دا څه موده د کمبوديا د شمال په ځنګلونو کي لالهانده وه دا دي اوس اوس حکومت ته سلامي شوه.

امريکه غواړي د سره خمير ډلي مشران دانسانيت پر ضد د جناياتو له امله په نړيواله محکمه کي محاکمه شي ځکه نوموړي ډلي د ۱۹۷۵-۱۹۷۹ کلونو تر منځ نږدي دوه مليونه انسانان وژلي دي د کمبوديا له پوځ سره د سره خمير پيوستون د پنومپين پوځي مشرانو له خوا د بوي اعلاميي په ترځ کي تائيد شو .

افغانستان او کمبوديا دوه داسي آسيايي هيوادونه دي چي د موقعيت په لحاظ له يو بل نه ډير ليري پراته دي او وګړي يي هم په تاريخي، فرهنګي عقيدوي او نژادي لحاظ يو له بله څه ځانګړي اړيکي نه لري خو که د تيرو څو لسيزو پيښو ته ځير شو نو يو زيات شمير مشابهتونه او موازات پکي ليدل کيږي .

په کمبوديا کي په کال ۱۹۷۰ کي کله چي د هغه هيواد پادشاه «سيهانوک» بهر ته په سفر تللي ؤ د غربيانو په وينا د قصر دننه کودتاه وشوه، د هغه وخت صدراعظم «جنرال لونول» او د هغه پلويانو سيهانوک له سلطنت نه ليري کړ، شاهي مشروطه نظام بي نسکور او پر ځاي بي جمهوري نظام اعلان کړ .

دغه راز په افغانستان په ۱۹۷۳ کال کي کله چي د افغانستان پاچا روم ته تللي ؤ د هغه د تره زوي او اوبني پخواني صدراعظم د قصر سپينه کودتا وکړه ، د محمد ظاهر شاه سلطنت بي نسکور او جمهوريت يي اعلان کړ .

په کمبوديا کي په ۱۹۷۵ کال کي د سره خمير د افراطي کمونستانو ګوند د هغه هيواد جمهور رئيس جنرال لونول راوپرځاوه او د سره خمير مستبد مشر «پول پوت» د واکمني په ګدي کيناست د پول پوت د واکداري په څلورو کلونو کي د کمبوديا ولس بيساري کړاوونه وګالل او نږدي دوه مليونه بي ژباتره ډله ډله ووژل شول.

په افغانستان کي هم په ۱۹۷۸ کال کي د خلق شوروي پالونکي ګوند کودتاه وکړه، سردار محمد داؤد خان يي له قدرت نه ګوښه کړ او د خلق ګوند مشر نور محمد تره کي واکمن شو.

د خلق - پرچم د کمونستانو کودتايي رژيم د خپل تخمين يو نيم کال واکمني په موده کي په افغانانو چپه ميچني وګرځولي او لسګونو زره تنه افغانان بي زنداني او شهيدان کړل.

پر کمبوديا په ۱۹۷۹ کال ويتنامي ځواکونو يرغل وکړ او د سره خمير خونړي واکمني بي پاي ته ورسوله او په ځاي بي خپل لاس پوځي «هنګسمرين» د کمبوديا واکمن کړ. دغه ور په افغانستان کي هم په همدي کال د ويتناميانو ولي نعمت يعني کرملين خپلي سري لښکري پر افغانستان ورمارش کړي حفيظ الله امين بي له قدرت نه ليري او وواژه او پر ځاي بي خپل ګوډاګي د پرچم ګوند مشر ببرك کارمل واکمن کړ .

په کمبوديا کي د هغه هيواد د پخواني پاچا نور دوم سيهانوک نهه زره او د سوسان پنځه لس زره جنګيالي د سره خمير له پنځه ديرش زره پوځ سره يو ځاي شول او د ويتنام له يرغلګر پوځ او د هغه له کمبوديايي يارانو سره بي جګړه توده کړه .

په افغانستان کي هم هغه مبارزه چي د خلقيانو او پرچميانو پر خلاف د هيواد په بيلا بيلو برخو کي پيل شوي وه په ملي قيام بدله شوه او ټول ولس د شوروي د يرغلګر پوځ پر خلاف مقاومت پيل کړ .

د افغان ولس کلك مقاومت او نړيوالي خواخوږي شورويان دي ته اړ کړل چي خپل تيري کوونکي پوځ له افغانستان نه وباسي.

خو کله چي ويتناميان له کمبوديا او شورويان له افغانستان څخه ووتل ددغو دوارو هيوادونو پيښو بيلا بيل لوري غوره کړل .

په کمبوديا کي ملګرو ملتونو څه د پاسه شل زره سوله ساتونکي عسکر واچول او بهرنيو اړخونو او ګاونډيو هيوادونو پر بيلا بيلو ډلو رښتيني فشار واچاوه چي له جګړي لاس واخلي د کمبوديا رقيبو ډلو ائتلافي حکومت جوړ کړ د انتخاباتو د څارني چاري ملګرو ملتونو ته وسپارل شوي نورودوم سيهانوك له شلو کالونه وروسته يو ځل بيا د کمبوديا پاچا شو او تر سړني اوري پکي سوله ټينګه وه . خو په افغانستان کي د شوروي ځواکونو له وتلو وروسته د نجيب حکومت او مجاهدينو تر منځ جګړو دوام درلود، په پاي کي د نجيب رژيم نسکور خو د رقيبو ډلو تر منځ جګړي توده شوي.د هيواد پلازمينه لوټه لړټه شو او يواځي په کابل کي نږدي يو لك کسان ووژل شول.

د کمبوديا په اړه نړيواله ټولنه دي ته په کله متعهده وه چي د سولي له پاره رښتيني او جدي کار وکړي يو بل توپير دا ؤ چي په کمبوديا کي پخواني پاچا نورودوم سيهانوك مشيت رول ولوباوه خو له بده مرغه د افغانستان پخواني پا چاکر ارکيناست اوکوم لازم ګام يي پورته نه کړ .

په سړني اوري کي په کمبوديا کي هونسن چي د پاريس د سولي له موافقي نه پخوا د ويتنامي قواوو واکمني ته رسولي او بيا په ائتلافي حکومت کي دوهم صدراعظم شو کودتا وکړه او د هيواد لومړني صدراعظم او د پاچا سيهانوك زوي «رانارايد» يي له قدرت نه ليري کړ يدي توګه تړپکساورنه د پاچا سيهانوك مخ ته وکتل او نه يي د منطق اوجهان پروا وکړه .

زموږ د ليکني موخه د افغانستان او کمبوديا پيښو ورته والي په تيره د سره خمير د وروستي وسله والي ډلي تسليمدل او د کمبوديا په پوځ کي مدغم کيدل دي.

دا يو بل اوښايي وروستي مشابهت او ورته والي شي په افغانستان کي هم وروستي وسله واله او جنګي ډله چي پاتي ده هغه د احمد شاه مسعود داسي ډله چي د هيواد د پلازميني د لوټه لوټه کيدو او له يو لك نه زياتو افغانانو د مرګ ژوبلي مسؤوله ده د احمد شاه مسعود ډلي هم لکه د سره خمير نږدي څلور کاله د هيواد پر پلازمينه واکمنه وه چي اوس د يواځيني او وروستي جنګي ډلي په توګه پاتي او لکه د سره خمير ډله چي د کمبوديا د شمال په ځنګلونو کي پته او سرګردانه وه د احمد شاه مسعود ډلګي هم د شمال په تاکونو ځنګلونو او غرونو کي پټه او سرګردانه ده، د احمد شاه مسعود ډلګي برخليك لکه دا تور مشابهتونه د سره خمير په څير او همداسي محتوم سرنوشت بي په مخ کي دي دا بيا بيله خبره ده چي دغه ډلګي د بي دريغه او بي شميره مرګونو او جرمونو له مخي څوك نړيوالي محاکمي ته نه را کښږي. دا يو بل داسي توپير دي چي د افغانستان او کمبوديا پيښي بي سره لري .

۲ بن لادن او امريکا

د دوکتور عبدالقيوم «کوچي» ليکنه د امريکا څخه

دا چي ځني خپه شوي ، جذباتي او سرتيري مسلمان ځوانان هم کله کله له خپل ژوند څخه تيريږي او د لويديزې نړي د ظلم او جفا په مقابل کي پر کوم سفارت يرغل وکړي او يا د بم په اچولو تهمتي شي دا هم د بشريت د ټولنيز ژوند يو بل مثال او يو بل واقعيت دي چي بايد پاملرنه ورته وشي او هڅي وشي چي عوامل بي وپيژندل شي او د ناراضو ځوانانو د رضايت او تسل او قناعت د پاره د روغي جوړ ي او تفاهم چاپيريال ولټول شي. ان سبا هره پيښه چي د مسلمانو لخوا په لويديزي نړي کي سرته رسول کيږي هغه ټول پر بن لادن اچول کيږي او داسي ويل کيږي چي دا بن لادن د شبکو او لاس وهنو نتيجه ده دا څومره غير مسولانه دريځ دي. آيا که چيري بن لادن شهيد شي او يا پر خپل مرګ مړ شي نور مسلمانان به خپل خپکان او اندېښني د لويديځي د هغه تعصب او تريکيني په مقابل کي چي د اسلامي نړي سره بي کوي په بيلا بيلو طريقو ښکاره نکړي ؟

زه ډاډه يم چي که چيري بن لادن ونيول شي او يا شهيد او تر ور شي د امريکي او لويديزي نړي په مقابل کي به تريکيني او دښمني لا هم ډيره شي او ډيري امريکايي ماني او وداني به د بمونو په چښولو سره په هوا والوزول شي. خپله امريکايي چارواکو ويلي دي چي د اسلام سپيڅلي دين د اخلاقي او انساني ډيرو ښو ارزښتونو په لرلو سره يوازني دين دي چي د امريکي په ټولنه کي په ډيري بيړي سره دودي او پر مخ په لار کي روان دي او ډيري امريکايي نجوني او هلکان داسلام د تعاليمو په رڼا کي د اسلام مبارك دين مني او ټينګه عقيده پري پيدا کوي. اوس داسي اټکل کيږي چي اته مليونه مسلمانان په امريکي کي ژوند کوي . او داحصائيي د اټکل له مخي ددغو مسلمانانو په منځ کي ۷۰ فيصده پيغلي او ځوانان دي. دا هغه خلك دي چي په امريکي کي ځوان شوي او لوي شوي دي دا ځوان مسلمان نسلونه ټول د امريکي په ټولنيزو نيمګړتياوو پوهيږي نو ځکه ورځ په ورځ د دوي اسلامي عقايدو ده کوي او پرنورو باندي هم خپل اثر اچوي. دا ځوانه ډله د امريکي په سياسي، حقوقي او فرهنګي سيستمونو باندي ډير ښه پوهيږي او د خپلو اسلامي تعاليمو په وده او پراختيا کي د امريکايي سيستم په منځ کي خپله لاره پرانيزي . دغه مسلمانان پوهيږي چي د امريکي تعصب د مسلمانانو سره د واقعيتونو سره سمون نخوري او د امريکي دغه دريځ يوه لويه بي انصافي ده .

له بلي خوا امريکايي چارواکو دا پريکړه ليك او اعلان چي د بن لادن د نيولو او وژلو دپاره بي (۵) مليونه ډالره جايزه ټاکلي دا هم يو ناروا کار ګڼل کيږي ځکه چي دا پريکړه ليك په حقيقت کي پر خپله يو تروريستي عمل دي. که چيري امريکايي چارواکي دا تورونه لګوي چي د امريکي سفارتونه په کينيا او تانزانيا کي د سږ کال د اګست په مياشت کي د بن لادن د ملګرو او شبکي لخوا په بمو الوزول شوي دي مګر په واقعيت کي تر اوسه امريکايان برياني شوي ندي چي د خپلي دي ادعا د پاره ثبوت او مدارك وړاندي کړي له بلي خوا دا کار پر خپله د امريکايانو په خوله او تعبير سره د شخصي او ګروپي تروريزم بڼه او ماهيت لري. ولي که يو دولت د جايزي په ايښودلو سره ځني داړه ماران او جنايتکاران د تروريزم په پلي کولو او يا د اشخاصو په وژلو سره هڅوي دا يو دولتي تروريزم ګڼل کيږي که چيري د يوه دولت لخوا په دولتي انډول سره د تروريزم ملاتړ وشي دا عمل د نړيوالو حقوقو او د ملګرو ملتو د منشور په خلاف يوه ښکاره سرغړونه ده او بايد چي په هر اړخيز ډول سره وغندل شي.

موږ ټول پوهيږو چي ملګري ملتونه د سترو دولتونو او په خاص ډول سره د امريکا نفوذ او اثر لاندي يوه موسسه ده چي هيڅکله د سترو دولتو د ګټو او غوښتنو په خلاف څه نشي کولاي. د ملګرو ملتونو د کړو وړو او پريکړه ليکونو تاريخ چي سري وګوري او څيرني پري وکړي داسي پيښي ډيري په کي را پيدا کيږي چي واړه دولتونه د سترو دولتو د ګټو په لار کي ځپلي او قرباني شوي دي. په دي برخه کي لوي مثال بي د شوروي اتحاد ښکاره يرغلي تيري دي چي د افغانستان پر خپلواك هيواد باندي په ۱۹٦۹ کال کي وشو. د شوروي اتحاد تر ړنګيدو د مخه هم د ملګرو ملتو د امنيت په جرګه ګي کي د شوروي اتحاد پر بنډ يرغل په ښکاره ډول سره ونه غندل شو . دا ځکه چي په هغه وخت کي شوروي اتحاد او اوس فدرالي روسيه په هغي جرګه ګي کي د ويټو حق درلوده او روسانو ددغه صلاحيت په لرلو سره چا ته دا موقع نه ورکوله چي د شوروي اتحاد يرغل په تير وخت کي او د فدرالي روسي لاس وهني د افغانستان په کورنيو چارو کي نن سبا محکوم او وغندي. د امريکي دا دريځ چي د بن لادن د ملګرو د کوم مرکز د ړنګيدو او تخريب د پاره د افغانستان پر خپلواکه خاوره او ملي حاکميت د کروز د توغنديو په ويشتلو د سږ کال د اګست په شلمه نيټه تيري وشو دا په هيڅ شکل سره د نړيوالو د حقوقو او د بشر د حقوقو د بنسټونو سره سمون نلري. دا هم همغسي يو تيري دي چي روسانو په ۱۹۷۹ کال کي د سرو لښکرو په ليږدولو سره د افغانستان پر خپلواکي خاوري باندي کړي دي.

دا چي امريکايي چارواکي د ملګرو ملتو په موسسي کي د افغانستان د اسلامي امارت د څوکي د لاس ته راوستلو په لار کي خنډونه اچوي او د خپلو غلطو برداشتونو او سياستونو له وجهي نه پريږدي چي د افغانستان اسلامي امارت خپل نړيوال حق تر لاسه کړي او د نوروخپلواکو هيوادو په ډله کي ګډون ولري او سياسي، ټولنيز او اقتصادي او ثقافتي چال چلند د نړي د استازو غونډونو ته ور واوروي دا د امريکا يو بل ظلم او جفا ده چي د يوه وروکي مګرخپلواك هيواد بشري او نړيوال حقونه تر پښو لاندي کوي په خواشيني سره بايد وويل شي چي داسي يوه عادله او خپلواکه نړيواله محکمه نشته چي د سياسي او ټولنيزو واقعيتونو ادراك وکړي او د حق او باطل په تميز سره بشپړ انساني عدالت را منځ ته کړي .

د روژې احکام

د روژې اركان او شرطونه

قاضي محمد حسن "حقيار"

۲ برخه

سنت روژه : د هغو ورځو روژې ته چې رسول الله «ص» په دي ورځو كي روژه نيوله او يا به يې خلك ددي ورځو روژي ته ترغيبول سنت روژه وايي.

د سنت روژي ځني بيلګي په لاندي ډول دي : د عاشورئ د ورځي روژه، عاشورئ د محرم د مياشتي لسمي نيټي ته ويل كيږي خو دعاشورئ د ورځي له روژي سره شرط دا دي چي يوه ورځ تري د مخه او يوه ورځ تري وروسته (د محرم نهمه يا يوولسمه) هم ورسره روژه ونيول شي، دعرفي د ورځي روژه.خو چي صائم د حج په احرام كي نه وي عرفه د ذالحجي د مياشتي نهمي نيټي ته وايي چي سباه ورځ يې د لوي اختر لومړي ورځ وي،ايام البيض يعني د هري مياشتي ۱۳-۱٤-۱۵ مه نيټه چي په پخوانيو امتونو يې روژه فرض وه .

مستحب روژه : د دوشنبي او پنجشنبي د ورځي روژه، د شعبان د مياشتي پنځلسمه، د شوال د مياشتي شپږ ورځي روژه.خو چي دا ورځي پر له پسي ونيول شي، ډير ثواب دي .

نفل روژه : له هغو ورځو پرته چي روژه په كي فرض، واجب او سنت ده نورو په ټولو ورځو كي روژه نيول نفل او ثواب دي خو چي له هغو ورځو سره چي روژه په كي مكروه او حرام وي برابره نه شي (اكثره فقها، د مستحب او نفل تر منځ په توپير قائع نه دي)

مكروه روژه : يوازي د نوروز، جشن او عاشورئ د ورځو روژه نيول چي يوه ورځ تري وړاندي او يا يوه ورځ ورسره وروسته ملګري نه شي د روژي لپاره ځانګړي ورځ ټاكل لكه د هري شنبي يا جمعي ورځ، خو كه دا پورتني ځلور ورځي د انسان له عادت سره سمي يا مصادفي راشي پروا نلري ، ايام الدهر يا ټول عمر روژه كيدل، هغه روژه چي افطار ونلري او انسان شپه او ورځ روژه ونيسي، هغه روژه چي انسان په كي بالكل خبري نه كوي د هغه مسافر روژه چي پري سخته تمامېږي د خاوند له اجازي پرته د ښځي نفل روژه نيول، دا ټولي روژي مكروه دي خو كه د كومي ښځي ميړه ناروغ، مسافر يا د حج په احرام كي وي نو دي ته نفل روژه روا ده .

حرامه روژه : چي ځني تري په تحريمي مكروه هم تعبير كوي په دي كي د كوچني اختر لومړني دوه ورځي او د لوي اختر دري لومړني ورځي، او دحايضي او نفاسي روژه شامله ده . كه چا د اخترونو په ورځ كي روژه ونيوله خو بيايي وخوري نو قضا پري نشته .

د روژي اركان اوشرطونه : د امام ابو حنيفه په مذهب روژه يوازي يو ركن لري او بس او هغه له مفطراتو (هغه څه چي روژه ماتوي) ځان ساتنه ده .

او شرطونه يي په دري ډوله ري چي د وجوب د شرطونو، د وجوب دا دا د شرطونو او دا دا د صحت د شرطونو په نوم يادېږي په دي تفصيل سره :

الف : د روژي د وجوب شرطونه : يا هغه شرطونه چي روژه پرانسان فرض ګرځوي د ۱- اسلام: نو كافر باندي روژه فرض نه ده ځكه چي دي د دين په احكامو مخاطب نه دي او د كافر نيت هم صحيح نه دي .

۲- عقل : نو روژه په ليوني هم فرض نه ده خو د ليونتوب په وخت كي يي، كه يو څوك د رمضان د مياشتي په نيمه كي ليوني شو خو ژر بيرته جوړ شو نو د راتلونكو او تيرو هغو ورځو روژه چي دي په كي ليوني وو په ده فرض ده ، خو كه د رمضان مياشت تيره شوه او بيا رايه سد شو نو په ده هيڅ قضا نشته ده بيهوش هم د ليوني حكم لري.

۳- بلوغ : نو په كوچني روژه فرض نده كه څه هم د روژي تاب ولري كه څه هم په لس كلني كي به د عادت اخستلو لپاره ځني وخت روژه نيسي.

ب - د وجوب د ادا شرطونه : يا هغه شرطونه چي د روژي ادا فرض ګرځوي دا هم دوه دي : ۱- روغتيا: نو د روژي ادا يا اجرا په ناروغ نشته كه څه هم له روغتيا وروسته په قضا راوړلو مكلف دي ۲- اقامت : همدا راز په مسافر هم د روژي ادا يا اجرا يا په بل عبارت د روژي نيول فرض نه دي كه څه هم له اقامت وروسته به قضا راوړي .

ج - د ادا د صحت شرطونه : يا هغه شرطونه چي د روژي ادا پسري صحيح كيږي خو كه دي شرطونو كي يو هم پوره نه وي نو د روژي ادا يا نيول نه صحيح كيږي دا هم دوه دي : ۱- له حيض او نفاس نه پاكوالي نوكومه ښځه چي د روژي پر ورځ حايضه يا نفاسه وي نو روژه يي نه صحيح كيږي او حتي په حيض او نفاس كي روژه ګناه هم لري خو له پاكوالي وروسته به يي قضا راوړي.

۲- نيت : نو د روژي ادا يا اجرا له نيت نه پرته نه صحيح كيږي ځكه چي په نيت سره د عاداتو (خوبونو) او عباداتو تر منځ توپير كيږي يعني كه يو څوك ټوله ورځ نه څه خوري او نه څه څكي يا ټوله ورځ پري په خوب تيريږي خو په ټوله ورځ كي يي لږه شيبه هم روژه په ياد نه وه نو آيا ددي شخص دا عمل روژه حسابيږي ؟ نه هيڅكله نه . د نيت وخت د لمر له ډوبيدلو پيل او د سبا ورځي د نيمايي لمر نه تر لږه شيبه وړاندي پوري يا د لمر له استوي نه لږ مخكي وخت پوري دئ نو كه څوك وغواړي چي سبا ورځ روژه ونيسي نو د نيت وخت يي د لمر له ډوبيدلو پيل ټوله شپه حتي سبا نږدي غرمي پوري دي مثلاً كه د روژي په ورځ (لكه همدا اوس) سحر پنځه بجي صبح صادق (رڼيتوني سپيدي) را وخيژي او پنځه بجي لمر ډوب شي چي شرعي ورځ او روژه دولس ساعته كيږي او نيم يي شپږ ساعته چي د صبح صادق له پنځو بجو سره يي جمع كړي نو يوولس كيږي نو له يوولس بجونه وړاندي نيت كول ضرور دي. خو كه په دومره وخت كي يي هم روژه په زړه كي را ونه ګرځيده نو په دا ورځ يي روژه صحيح نده او په نيت كي دا فرض او ضرور نه ده چي حتماً دي په ژبي هغه مخصوص الفاظ تير كړي (كه څه هم سنت ده) دا هم كفايت كوي چي په زړه كي دومره وپوهيږي چي زه سبا ته يا نن روژه كيږم او پيشمني په خپله نيتري خو چي په زړه كي د روژي د نه نيولو قصد ولري همدا راز د رمضان، معين نذر او نفل روژي نيت كي صرف روژه يا دول هم كفايت كوي يعني د ژبي په نيت كي فرض، واجب او نفل د كلو يا دول لازم ندي خو په قضا كفاره، مطلق نذر كي به يي په نيت كي يا دوي او ټاكي به يي.كه څوك په رمضان كي له رمضان پرته د نورو روژو نيت كوي نو دده نيت معتبر نه ده او همدا د رمضان روژه يي كيږي خو چي مسافر نه وي ځكه چي مسافر ته د رمضان فرض روژه معاف ده هغه په دي ورځو كي هره روژه نيولي شي. دلته بايد دا خبره يو ځل بيا ياده شي چي هيڅ ډول روژه له نيت نه پرته نه صحيح كيږي . خو نيت د ژبي الفاظو ته نه بلكه د زړه قصد ته ويل كيږي نو كه څوك په زړه كي د روژي عزم او قصد ولري ، نو كه په ژبه يي تكرار هم نه كړي پروا نه كوي خو په ژبه تكرار يي سنت ده او ثواب لري. د روژي نيت دا دي : « اللهم بصوم غد نويت من شهر رمضان» يعني « اي پروردګاره! زه د رمضان د مياشتي د سبا ورځي د روژي نيت كوم». (پاتي لري)

د شعر او ادب تږي

كمر

اصله

ما هغه ورته تيلي كړلو،
د زړه ويني مي تيل كړي،
ما
ويل
چي به
ډيوه شي
خو هغه
«شيطان څراغ»
شو !!

ملبار كاكړ

چقدر لذت انگيز و گواراست آخرين دقايق انتظار روز هاي ماه صيام، اين مهمان مشفق خوان نعمت گشوده و از درياي كمال به كام روزه داران تشنه لب آب زلال مي ريزد.

هنگامي كه روزه داران خرما به دست و دور هم نشسته و براي گلبانگ الله اكبر دقيقه شماري مي نمايند چه زيبا محفل فرحت افزا، گشايشگر جانها و پر كيف و دل آراست

آنگاه كه نداي ملكوتي آذان شنوايي ها را نوازش ميدهد در هاي بسته گلستان ضيافت افطار باز مي شود و ميزبان مهربان كه بهترين و پاكيزه ترين انعامات را بر سفره، روزه داران چيده است همه را نثار شان مي كند .

خوشا آن لحظه، افطار براي روزه داران!

ژوند

عبدالمتين«عمران»

اوښكو د سترګو په كاسوكي چي ګنګل نيولي
د اغزو څنډو د اشنا ښكلي وريل نيولي
په هر قدم كي د ليلا د كوڅي ميني پلوري
مجنون يي هلته په تش لاس د ميني غل نيولي
چي مو سهار كي د سپيدو په ځاي شفق غوړيږي
دا خو مو ژوند د تروږمو د كمځو ول نيولي
دتهيليو د تيارو سيوري په لمنه كړي
نن د رڼا استازو لاس كي څراغ بل نيولي
زموږ د قهر سمندر كي بيا څپي مستي دي
خدا يږده چي كوم بدبخته دا ځلي اجل نيولي

ټوټه

حنيفي

راته آشنا په سترګو سترګو كي بيا
پټ پټ رازونه لوځول لوځول
زما د ستري زړه په ستري كوريي
ورو ورو اورونه بلول بلول

يوه بله څورونكي خاطره

ملا محمد ابراهيم«زرمتي»

د مرغومي د شپږمي د غندني رسمي مراسم څو ورځي د مخه تير شوي وو خو لا په حجرو او ډيرو اّني ددغه وحشت او وير ځوروونكي خاطري ياديدلې. له همدغسي يوه محفل نه پورته شوم او د مسجد په لور روان شوم د لسانځه د ادا كولو څخه وروسته د خپلو ملګرو سره د كور په لور وخوځيدم.

د سازډيګر زيږي لمر ته مو كتل چي نا څاپه د يوي چاودني غږ وځنګلو. د حيرت په غږو ، غږو سترګو مو يوي او بلي خواته وكتلي ګورو چي مخامخ د يو الوتو او ونو تر سر خړ ګرد پورته شو او د سازډيګر د زيږي لمر طلايي وړانګي يي زموږ له نظره پټي كړي.

صحني ته په ورنګ كي ډير لږ سوال شو . ګړندي ګامونه مو پورته كړل او ځان مو د پيښي ځاي ته ورساوه. د پيښي ځاي يوه عسكري كلا وه چي اوس يكي ځنک نه اوسيده او نه څه كار ورځني اخستل كيده د پر څه وپښو ، امله چي يكي وو څو ځاي ګرځيدلي وه او پر ځو زوي به يكي ځريدل.

كلا ته د رسيدو سره مو سم له كلا څخه لر لري غږونو ته د ژړا او وير غږونه رااخيرګيدل خو خلكو د كلا منځ ته ترهيدلي منهي وهلي. د چاودني ځاي د يو څو رنګو كوټو او بوټو په منځ كي و. زه هم ورننوتم او د پيښي ځاي ته ورغلم. ګورم چي د افغان ماشوم نيم نيم ټوټكري تن په ځمكه پر مخ پروت دي او خلك ورته په سترو ساڼو او رڼو ، رڼو سترګو ګوري. دا له هغو ځلورو ماشومانو څخه يو و چي لا تر اوسه پري د ژړا څوك نه و. ګوندي مور به يي د نورو بورو سره غم سپكاوه او دري نور خو د خپلو كورونو په دروازو ډير درانه ننوتي وو .

په داسي حال كي چي ښتي بدن مو په مخكي پروت و يوي اويلي خواته مو كتل څو د چاودني لامل پيدا كړو. په كلاكي د روسي ډوله موټرو، زغره والو وسايطو او د چاودلو مرادو څخه پرته بل څه نه ليدل كيدل او موږ په دي پوه شولو چي خامخا به د روسانو د وژونكي سوغات په ياتي شونو د افغان سيندونو زړونه بيا ټپي شوي وي په داسي حال كي چي د غم په ټال كي زنګيدم په دي مرغومي مي بيا د كور، كالي دوديي وژونكي سوغات په سترګو وليد.

آداب روزهٔ ماه مبارك رمضان

نوروز گل

ماه مبارك رمضان يكي از ماه هاي دوازده گانه سال هجري قمري ميباشد . انسان مؤمن درين ماه مبارك از طرف پروردگار خود مأمور گرديده است، تا اين ماه مبارك را روزه بگيرد.

چون گرفتن روزه، رمضان شريف، امر خداوند«ج» است، اطاعت و فرمان برداري از امر خداوند«ج» فرض مي باشد.

علاوه از اداي فرض الهي و سر تسليم نهادن به فرمان خداوندي، هر امر و فرمان او تعالي خالي از حكمت و آداب نيست.

براي هر مؤمن به خدا«ج» لازم است تا در قسمت حكمت اوامر و نواهي او تعالي«ج» بانديشد، جهت پي بردن به حكمت آن سعي و تلاش بي حد نمايد، و هم آداب فرايض خداوندي را به صورت احسن بجا آورد تا از جمله بنده هاي مطيع و فرمان بردار او تعالي «ج» گردد.

فرضيت روزه، ماه رمضان شريف توسط آيات متعددي از قرآن مجيد واحاديث پيامبر اسلام«ص» ثابت گرديده درين عرصه هيچ نوع ترديد و شك وجود ندارد و تمام اهل دنيا به اين حقيقت اعتراف و عمل مي كنند.

روزه رمضان شريف داراي ابعاد مختلفي است، كه خالي از سود و فايده نمي باشد. اگر در هر بعد آن بخواهيم چيزي بنويسيم، قلم از احقاق، حق آن عاجز و ناتوان مي گردد. ما در اين مقال صرف در بعد آداب روزه، ماه مبارك رمضان، سخني با روزه داران عزيز خود داريم، و باورمنديم كه روزه داران ماه مبارك رمضان از آن استقبال گرم به عمل آورده، مورد استفاده قرار ميدهند، بدون اينكه در نقض و كاستي آن التفاتي داشته باشند.

آري خواننده عزيز! براي روزه دار، مستحب است كه در ماه رمضان شريف امور ذيل را رعايت نموده و روزه اش را با كيفيت و لذت بخش نمايد :

۱- سحري خوردن : يكي از آداب لازمي و ضروريكه بايد روزه دار محترم بيان توجه داشته باشد، همان سحري خوردن است، اين امر به اجماع امت اسلامي مستحب بوده، و تارك مستحب در فقه اسلامي گناهكار محسوب نمي شود. در زمينه ثبوت آن احاديثي زيادي از پيامبر اسلام«ص» روايت گرديده كه ، ما عده يي آنرا براي خوانندگان محترم نقل مي كنيم. حضرت انس«رض» از پيامبر«ص» روايت ميكند كه فرمودند «

سحري خوريد، كه در سحري خوردن بركتي است» امام بخاري و مسلم

سبب با بركت بودن سحري، در آن است كه روزه دار را در طول روز قوي و پر نشاط نگاه ميدارد ، و هم گرفتن روزه را آسان و سهل ميدارد.

خوردن سحري چگونه متحقق مي گردد ؟ تحق يافتن سحري، بخوردن غذاي كم و بيش تحقق مي يابد، و لو كه جرعه، از آب باشد. ابو سعيد خدريؓ از پيامبر «ص» روايت ميكند : « سحري كردن بركت است آن را ترك نكنيد، و لو يكي از شما جرعه، از آب داشته باشد چون خداوند و ملائك براي سحري كننده ها درود مي فرستد»

وقت سحري از نصف شب آغاز مي شود تا طلوع فجر . تأخير كردن سحري مستحب است، زيد بن ثابت «رض» مي گويد كه : با رسول الله «ص» سحري كرديم، بعد به طرف نماز رفتيم، گفتم : در بين نماز و سحري چقدر وقت بود ؟ گفت : پنجاه آيت قرآن .

از احاديث فوق چنين استنباط مي گردد كه سحري خوردن يك عمل نيك پيامبر اسلام، و از مستحبات روزه رمضان شريف مي باشد، در سحري مقدار غذا شرط نبوده، صرف خود عمل برخاستن جهت سحري مهم است. و اگر غذا هم نباشد، انسان ميتواند تا شام صبر كند مي شود كه يك گيلاس آب، و يا يك پياله چاي، و يا چند خرمايي به نيت سحري بخورد. بهترين وقت سحري خوردن لحظات پيش از نماز فجر است، و بايد بعد از سحري انسان به طرف نماز صبح رفته، فرض الهي را ادا سازد.

۲- تعجيل در افطار: براي روزه دار مستحب است كه در قسمت افطار سرعت و تعجيل رااختيار نمايد، جهت تحقق زود افطار كردن متوجه آفتاب باشند، هر زمانيكه دانستند، آفتاب غروب نموده افطار نمايند.

از حضرت سهيل بن سعدؓ روايت است كه پيامبر اسلام «ص» فرمودند : مردم بطور هميش در خير اند، كه در افطار تعجيل كنند . امام بخاري و مسلم

در صورت امكان، روزه دار بايد روزه اش را توسط خرماي تازه افطار كند، در افطار روزه، طاق بودن خرما در نظر گرفته شود اگر خرما پيدا نمي شد، به آب افطار شود.

۳- دعا و نيايش در وقت افطار و اثناي روزه : دعا و نيايش يكي از اموريست كه انسان بيچاره و ضعيف در هر عصر وقت و لحظه بدان نياز و ضرورت دارد ، دعا و تضرع به درگاه ذات كبرياي بي نياز مسلمان را در دشوار ترين حالات سخت ترين اوقات كه احساس كثرت و ازدياد مشكلات و مصايب نمايد، راحت و آرام مي سازد. چون مسلمان دعا و گريان را خاص به ذاتي مي كند كه هميشه دروازه درگاه اش به روي تمام مخلوقات اش بدون كدام تبعيض و تفريق باز است، و او تعالي «ج» خود بندگان مؤمن اش را امر نموده كه ذات او را بخواهند، و از او طلب نياز نمايند، كه به داد شان برسد.

درين هيچ شك نيست، دعا و نيايش از خود اوقات مناسب و خوبي دارد ، اگر دعا و تضرع مؤمن در همان اوقات اتفاق بيافتد بدون كدام تعليل و زود مورد اجابت خداوند «ج» قرار مي گيرد.

ماه مبارك رمضان يك فرصت طلايي براي مؤمنان خداجو است كه شب و روز بدرگاه ذات بي نياز ، دست طلب را بلند نموده براي خود ، فاميل، خويشاوندان، وطن و مردم اش طلب سعادت ، بهروزي، كاميابي، بي نيازي، آرامي ، امنيت، كار و شغل، ازادي، رفاه و آبادي وطن نمايد. اعتقاد برين است كه دعا درين ماه هيچ رد نشده و مورد اجابت پروردگار لايزال مي باشد.

روايت است كه حضرت محمد «ص» وقت افطاراين جملات را تكرار مي كردند : اللهم لك صمت ، و علي رزقك افطرت هم چنان روايت استكه پيامبر «ص» فرمودند :" سه كسي است كه دعايش رد نمي گردد : روزه دار تا زمانيكه افطار نمايد، امام عادل و شخص مظلوم و ستمديده.

حديث فوق بيانگر اين حقيقت است كه دعاي روزه دار در اثناي روزه بدرگاه پروردگارش مستجاب است، و در امتداد روز هر وقتيكه دعا كند خداوند دعايش را قبول مي نمايد.

خدايا! به داد اين ملت بيچاره و بي دست و پا برس ، قديرا ! با پايان رمضان شريف، درد ، الام، مصايب، تنگ دستي، مظلوميت ، فقر و فاقه گي ... و هم بدبختي را از اين ملت پايانش ده .

٤- امتناع از چيزهائيكه منافي روزه باشد : روزه ماه مبارك رمضان يكي از بهترين عادات است كه انسان توسط آن به خداي خود تقرب مي جويد. و روزه ماه رمضان شريف بخاطري فرض گرديده كه انسان درين ماه نفس خود را كنترول و تزكيه نموده و بسوي معراج تزكيه نفس ، خير و فلاح دارين استعداد نمايد . و براي روزه دار ضروريست كه جهت تحقق بهتري، تزكيه و پاكي نفس، اموري را رعايت نمايد كه منافي با روزه ماه مبارك رمضان است.

از مهمترين آنها، نگاه داري زبان از حرفهاي است كه روزه را خدشه دار نموده و لذت آن را از بين مي برد . گرفتن روزه ماه مبارك رمضان صرف امساك و امتناع از خوردن و نوشيدن نيست، بلكه نگاه داري خود از تمام كارهائيكه خداوند نهي نموده است.

ابو هريرة «رض» از پيامبر «ص» چنين روايت مي كنند : روزه صرف نگاهداري از خوردن و نوشيدن نيست؛ بلكه روزه نگاهداري زبان از حرف هاي زشت، دروغ است دشنام ، اگر كسي تورا دشنام بدهد، و با حرفي جاهلانه را نثارت كند، برايش بگو كه من روزه دارم، من روزه دارم.

و در حديث ديگري پيامبر اسلام «ص» فرمودند : اگر شخصي تهمت ، بهتان و عمل به آن را ترك نكند، خداوند را هيچ حاجت و ضرورت به گذاشتن و ترك غذا و نوشيدنش نيست.

د کابل د اور وژني ...

الات مره شي اورلگيد او د اور بلوني نورو وسايل دي د ماشومانو په واك كي ورنه كري .

د اور وژني د رياست فني هيأت د تيلو له پمپ استيشنونو او منډوي گانو او نورو نه په دايمي توگه څارنه كوي او هره شيبه د هيواد والو په خدمت كي دي.

له دي امـــله د اور د لگيدو په صورت كي دي د اطفائيي د رياست د غو تيلـــــفونونو سره تماس ونيول شي.

له يو زرو دوه سوه ...

بي ژونـــدي پـــاتي كـــيـــدل حيرانونكي وبلل .

ساراودراك د خپلي دغي لويدني او له ډيرو سره د لگيدو په باب وويل دي دومره ويـــريدلي و چي د تگ خـــواك بي نه درلود ده د انتظار په موده كي د ژغـــورني د تـــيم تر رسيدو پوري په واوره كـــي د بوي ژوري د كـــيندني او د زياتو كـــالبو د اغـــوستلو تكل وكر چي ساره يي ونه وهي.

محترم ذبيح الله امانيار مسؤول آرشيف...

انجام داده كه توجه شما عزيزان را به خوانش آن فرا ميخوانيم .

نخست از محترم امانيار پرسيده شد كه گفته ميتوانيد به چه تعداد همكاران درين برنامه كار مي كنند ؟ وي در جواب چنين گـفت : درين برنامــه يك تيم چند نفـري مشغول تهيه برنامه هستند كه بايد ياد آور شوم كه در آغاز به اساس پيشنهاد بنده به مقام محترم رياست عمومي راديو صداي شريعت پوهاند ملا محمد اسحق نظامي رئيس عمومي راديو صداي شريعت و افغان فلم كه يك شخصيت فرهنگي كشور هستند علاقمند به ايجاد چنين برنامه شدند كه بعداً اين برنامــه به دايركـتـــري اينجـانب ، پروديوسري محترم احمد زاده و گوينده گي محترم همايون راوي و تخنيك دايركتري محترم محمد ظاهر «نجوا» ، انجنير مير آقا و نصير احمد «سرمست» برنامه آغاز شد .

اين برنامه كه در هفته يك بار به مدت نيم ساعت به شام چهارشنبه ساعت ۸:۳۰ به نشر ميرسد . بعد از نشر دو سه برنامه شنونده هاي زيادي را به خود جذب نمود كه تيلفون هاي مكرر و نامه هاي شنونده هاي عزيز شاهد ادعـاي ما ميباشد و آئين ملي، اسـلامي و افغاني شان را ادامسازند و در تكميل اين تاريخ شفاهي ما را ياري رسانند و جنايات كمونستان خود فروش را بر ملا بسـازند و آينده ها را با ابراز خاطرات شان واقف بسـازند و پرده از چهره ظلم و شكنجه هاي كمونست ها بردارند .

يكبار ديگر ياد آور ميشوم كه آن عده از هموطنان عزيز ما كه در زمان نظام هاي گذشته زنداني شــده و يا خـاطرات تلخ دارند به اداره محترم آرشيف نشراتي راديو مراجعه و يا به تيلفون شماره ۲۵۲٤٦ در تماس شده رسالت شانرا در سـاختن تاريخ و بر مـلا نمـودن مظالم دوره كـمـونست ها به نسل هاي آينده ايفا نموده تا تاريخ فراموش نسل هاي آينده نشود.

د كابل د ژوبڼ (باغ وحش) مسؤول ...

ستاسي توجه ورته را اړوم.

لمړي مي له ښاغلي شير آقا څخه په باغ كي د موجوده حيـواناتو د ډولونو په هكله معلومات وغوښتل هغه داسي وويل : موږ همدا اوس ديارلس مختلف حيواناتو او مرغان په باغ كي لرو چي حيـوانات يي عبارت دي له زمري ، ليوه، گيدړه، بيزو ، گوركيش، خنځيـر او د مرغـانو له جملي څخه بابڼه، عقاب، كجير كبوتر د يادولو وړ دي.

ددي پوښتني په ځواب كي چي باغ ته د مي يوه نفر د داخليدو تكت څو افغاني ده؟ او د ورځي څوكـــان د حيـواناتو د سيل لپــاره باغ ته راځي ؟ نومــوړي راته داسي وويل : باغ ته ديوه نفر د داخليدو د تكت قيمت دوه زره افغاني ده او د ورځي تقريباً د يو سلو ديرش كسانو په شاوخوا كي له بڼ څخه ليدنه كوي . همدارنگه د باغ آمر د بوي پوښتني په ځواب كي د حيـواناتو د خـــوراك په هكله وويل : مـــوږ، هره ورځ ديرش كيلو گرامه خامه غوښه ، غوښه خوړونكو حيواناتو ته په ۲٤ ساعتونو كي فقط د يو ځل لپـاره وركـوو چي د كـابل ښاروالي تر نظارت لاندي د تابلو مطابق ورته وركـول كـيـږي . نورو حيـواناتو او مرغـانو ته پخه غـذا لكه كچالو، گازري او داسي نور خوراكي مواد وركوو .

له محترم شير آقا څخه مو بيا وپوښتل چي تاسي څو په ۲٤ ساعتونو كي حيواناتو ته فقط يو ځل د خوراك وركولو خبره وكړه آيا دا خوراك د دوي لپـاره كـفـايت كـوي ؟ هغــه داسي وويل : هو پوهـــــــــــــــــانو تحقيقاتو په رڼا كي ثابته كـړيده چي د نوموړو حيواناتو لپاره په ۲٤ ساعتونو كي يو ځل غذا وركول كفايت كوي .

د بڼ مـحـتـرم مــسـؤول د بڼ د كـار كـوونكو د شـمـيـر په هكله داسي وويل : اصلاً موږ په تشكيل كي خلور كسان درلودل خو خرنگه چي زموږ كار زيات دي او د كابل ښاروالي زموږ مشكلات ليدل نو هغوي زموږ تشكيل زيات كړ اوس زمـا په شـمـول دلتـه يوولس كـسـان كار كوي چي كارگران مامورين او يو د حيواناتو داكتر (وترنر) دي.

ښاغلي شير آقا پر حيواناتو د ژمي د سـړي هوا د اغـيـزو په هكله داسي وويل : دا روښانه حقـيـقت دي چي موږ پدي لړ كي له زياتو مشكلاتو سره مخامخ يو زموږ زياتره حيوانات د سړو په مقابل كي مقاومت نلري او د دوي د حـفـاظت لپـاره عـمـده مـشـكل د برق نشـتوالي دي ترڅو د تودوخي لپاره ور څخه استفاده وكړو هغه دا هم وويل چي د مجبوريت له مخي مو ټول مرغان يوي خوني ته راټول كړي دي.

مـا په دي باره كي بيا تري پوښتنه وكړه چي ولي باغ نه ترميمـوي ؟ هغـه دا پوښتنه د كابل ښاروالي او لوړو مقاماتو ته راجع كړه هغه سره له دي زياته كـړه كه چيرته موږ وغواړو چي د حيواناتو او مرغانو شمير زيات كړو تر هر څه د مخه بايد باغ ترميم كړو تر څو اطاقونه او قـفـسونه ترميم او بيا له داخل او خارج څخه حيوانات او مرغان د باغ وحش د ښكلا لپاره راوړو .

په پاي كي مي له ښاغلي شير اقا څخه پوښتنه وكـړه چي تر اوســـه د ژوبڼ سـره چا مرسـتـه كـړيده ؟ هغـه وويل تير كال زموږ يو زړه سوانده وطنوال جاويد اقبال د باغ لپاره شل قفسونه جوړ كړل وروسته له هغه څخه له موږ سره هيچا كمك نه دي كړي موږ د امارت لوړو مقاماتو او خارجي موسسو څخه غواړو چي د باغ وحش د ترميم لپاره تر هر څه لا زيات جدي اقـدام وكـړي ځكه چي باغ وحش د هيـواد په ښكلا او تاريخ كي مهم رول لري او هر شخص يا موسسه چي له موږ سره د باغ په بيا آبادولو كي كمك وكړي مننه او قدر داني يي كوو .

د سرپرستي شوري د مرستيال ...

امله بيرته ترميم او د بوي غـونډي په ترح كي پرانستل شو او د گنې اخيـستو ور وگرځيد.

د غـونډي په پيل كي د قـرآن عظيم الشـان خـومبـارك ايتـونه ولوستل شول وروسـي د افغـاني سري ميـاشتي د عـالي تولني رئيس محترم حافظ سيد عصمت الله عـاصم خپله پرانسـتونكي وينا وكـړه بيـا د سرپرستي شورا مرستـيـال محترم مولوي عبدالكبير د عام المنفعه موسسو د بيا ابادولو په برخـه كي د اســلامي امـارت د پروگراموتو د يادولو په ترح كي د روغتون د بيا ابادولو او احيا په كار كي د دغي ټولني د چارواكو او كاركوونكو د كار او زيار څخه قـدرداني وكـړه او د چارو د لا ســه كـيـدو په باب يي هغوي ته لازمي لارښووني وكري .

وروســي د مــاليي د وزارت ســرپرست محترم الحاج محـمـد طاهر انوري د عـامي روغتيا د وزارت معين محترم الحاج شير محمد عباس ستانكزي او د اي سي ار سي د كمـيـتي استـازي په وار سره د روغتـيـايي موسسو د احيا په اره خبري وكري دغه راز د سرپرستي شورا مـحـتـرم مرسـتـيـال هغـه سوغاتونه چي د افغـاني سري ميـاشتي د عـالي ټولني له خوا برابر شوي وو په كـار كوونكو وويشـل وروسته يي ددغه روغتون بيلا بيلي برخي او د سيلو په افشار كي د افغـاني سري ميـاشتي د ټولني د پخواني وداني د ترميم بهير هم وكوت .

شورشيان كانگو ...

بدترين كــشــتــار در نوع خــود ميباشد.

ولي تطاق شورشيان كه مقر آن در شـهـر كـوما واقع در مـرز رونډا مـيـبـاشـد اين گزارش را رد نـمـوده گـفـت جنگ و حـادثه در منطقـه مذكور رخ نداده است.

په كندز كي د اسلامي امارت ...

ډلو څلور شپيـتـه تنه بنديان د كندز ولايت له زندان نه آزاد شول .

ددغو بنديانو د خلاصـون په وخت كي د شمال محترم پوځي مسؤول د تخار ولايت جهادي شخصيت محترم قـــيـــوم باي او د كندز ولايت د استـخـباراتو رئيس محـتـرم ملا تاج مير حاضر و .

نظاميان اشغالگر اسرائيلي...

شده و منازل آنرا همـوار نـمودند كه در اين مـيـان خانه خليل همدان يك عضـو سـازمان اهل لبنان نيـز شامل مـيـباشد اين هجـوم عـسـاكر اسرائيلي يك روز بعـد از حـمـلـه مـبـارزين مـسـلمـان بر يك پوسـتـه نظامـيـان اشغـالگر صــــــورت گرفتـه كه طي آن دو تن اســــــرائيلي جـراحت برداشته بودند.

مـبـارزين مـسـلمـان لبـناني براي بيرون راندن متجاوزين اسرائيلي از جنوب لبنان با آنهـا درگـيـر جنگ ميباشند.

د يو تن باغي د وژلو په ...

ترڅ كي څرگنده كره هر هغه څوك چي يو ياغـي ووژني پنځـــــوس امريكايي دالره انعام به ورته وركړ شي.

دغه ياغيان چي په لوړو برخو او غرنيو سيمو كي ځاي په ځاي شـوي دي له مركـزي حكومت سـره جنگيږي.

د ادبي كره كتني غونډه...

محـتـرم عـبـدالقدير «خـمـوش» خپل خلور شـعـرونه كـره كـتـني ته وړاندي كـړل چي د پيـاوړو شـاعرانو او اسـتـادانو لخوا پري كره كتنه تر سره شوه او د نوموري شاعر د ادبي هحـو د سـتـايلو په ترح كي دده دشـعـر نيـمگړتيـاوي ور په گوته شـوي. د غـونډي دوهمه برخه په يوه شانداره مشـاعره سكلي كراي شوي وه . په دغه مشاعره كي د هيواد نامتو او ځوانو شاعرانو خپل نوي شعرونه حاضرينو ته واورول. غونډه د افغـانسـتـان داسلامي امارت د ادبپاله او فرهنگپاله هحو څخه په مننه او د هيواد د سوكالي په دعائيه پاي ته ورسيده . د كره كتني د غونډو دغه لري چي د افـغـانسـتـان د اسـلامي امارت د فرهنگي ادبي هحو يوه وره بيلگه ده دوام لري.

جنگهاي ذات البيني ...

راكت باران مي نمــايند، شــخص مذكـور در اخيـر گفت خداوند«ج» به حـال مـردم شـمـالي رحم كنـد كـاش مليشه ها تنها به چور و چپاول مال مـردم قناعت مي كـردند آنهـا حسب دلخواه شان پسران مردم را به خدمت خود گماشته و با دختران معصـوم جبراً نكاح مي كنند، ديدن اين چنين مظالم انسان را به اين قانع مي سازد كه ان شـاء الله خيـلي زود لانه هاي ظلم و وحـشت باغـيـان ويران خـواهـد شد.

دري تنه معصوم ...

لرگيو د راتولولو په خاطر له كوره وتلي وو د خسو د راتولولو په وخت په دغه سيمه كي د ماين قرباني شول.

د سنگنوشـــتي د امنيـــتي پوســـتي چارواكي محترم حاجي كامل مسعود په دي باب وويل : امنيـتي چارواكي او منســوبين دير ژر ددغي غـــمجني پيـــــي حـاي ته ورسـيدل چي د دغـو ماشومانو له جملي نه دوه تنه د ماين د چاودېدو په وخت شهيدان او يو تن بل يي سخت ټپي شوي و او ډير ژر د تداوي لپـاره روغتون ته وليږدول شو چي له بده مرغه د سختو ټپونو له امله هغه هم تيره شپه شهيد شو .

ده زياته كـړه سـره له دي چي د مـاين پټكولو موسسي په سيمه كي د ماينونو په پاكولو بوختي دي خو د ماينونو او ناچاودلو مـوادو له كـبله چي د تيـرو رژيمـونو او د پخوانيو دښمنو ډلو له وخته په ميراث پاتي دي زموږ بي گناه هيـوادوال د هغـو قرباني كيږي .

مبلغ يك مليارد و چهل مليون ...

آژانس اطلاعـاتي باخـتـر خـبـر ميدهد : محـتـرم الحاج ملا محـمـد طاهر انوري سـرپرست وزارت مـاليـه روز پنجشنبه پيرامون چگونگي جمع آوري عـوايد گـمـركي آن ولايت با معاون گمرك ولايت پكتيكا صحبت نموده معاون گـمـرك ولايت پكتـيـكا طي توضـيـحـات به ارتبـاط عـوايد گمرك گفت : تحصيل عوايد گمرك ولايت متذكره در برج شعبان المعظم سال ۱٤۱۹ مبلغ سه مليارد و چهل مليون افغاني بوده كه نسبت به شعبان المعظم ۱٤۱۸ يك مليـارد و چهل مليـون افـغـاني ازدياد بعمل آمده است .

د گڼون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتني	كلني
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75	US$150

د شريعت تبصره

د ربړي حل كه د ستونزو ايجاد

تيره ورځ مو له نړيوالو خبري سرچينو واوريدل چي د پخواني ملي نجات د جبهي مشر او جهادي شخصيت محترم صبغت الله مجددي په پښور كي د سولي او ملي وحدت د ټولني اعلان كړيدي او له ټولو افغانانو څخه يي غوښتي دي چي ده په ټولنه كي ورگډ شي په افغانستان كي كه تير شل كلن كشمكش او په ځانگړي ډول د هجرت په محيط كي د اتحادونو او ټولنو پس منظر ته وكتل شي نو فكر نه كيـري چي له يو څو محدودو افرادو پرته چي په دي ټولنه كي خپلي شخصي گټي وينې او يايي د خپلو شخصي گټو لپاره دا پروژه پرانستي وي بل يو افغـان هم دا فـال نيكمـرغـه وبولي ځكه چي د تيـرو څو كلونو كي چي په پاكستان ، افغانستان، ايران او نوره نړۍ كي د افغانستان لپاره څومره ناكامي اتحاد يي، ائتلافونه، اتحادونه، ټولني او شوري گانې جوړې شويدي په عمومه توگه ويلي شـو چي په انســاني تاريخ كي يي سـاري او يو نړيوال ريكارډ يي درولي دي دا چي اوس مجددي صاحب له اورد سكوت نه وروسته يو حل بيا هـڅه وكړ!! او په پرديسي كي يي يوه جلا وطنه د ملي وحدت ټولنه تأسيس كره نو د اتحادونو او ټولنو پس منظر ته په كتلو سره دا اقدام هم د همـاغي لړۍ يوه كړۍ بللي شو سړي حيران شي چي د مجددي صاحب په څير شخص چي په دي ټولنه لوبه كي د يو مهم لوبغـاري او د ډيرو اتحـادونو ائتـلافـونو او ټولنو د رئيس په توگه هم پاتي شويدي او د جمهور رئيس اكتونه يي هم اجرا كړيدي او سابي په دي اره كافي تجربه هم ولري ولي داسي خام تار ته لاس اچوي مجددي صـاحب بايد په دي پوه وي او يا په دي پوه شي چي دردېدلي افغـانان اوس نيكمـرغـه ژوند، اقتصادي رغونې او په سر د لاساپني لاس راكښولو ته اړه لري، ځكه اوس په افغانسـتان كي داسي نظام حاكم دي چي پخپله همدي ملت راوستي دي او ددې نظام د راوسـتلو لپـاره يي په سلگونو زرو ارواوي نذرانه كړيدي، ددوي د هيلو ترجماني كوي، مكمل شريعت نافذ، بشپړ امنيت تأمين. د هر چا سر او مال خوندي دي دلته اوس تر ډيره حده ستونزي حل دي نو د ملت تقاضا له مخورو او جهادي اشخـاصو څخه دا ده چي د دوي په ټپونو پټي كيـږدي نه دا چي ټپونه ورزيات كړي، د افـغـانســتـان د روان او حاكم جريان هم همـدا غوښتنه ده چي كه څوك د افغانستانو په نسبت اخلاص او پيرزوينې لري نو بايد چي د همدي حاكم نظام سـتني نوري هم ور ټينگي كـړي . نه دا چي د سـتـونزو د توليـد فـابريكي ورته نصب كـړي. مـجـددي صـاحب دي ووايي چي په داسي شـرايطو كي چي د افغـانســـتان مشكل ان شاء الله په حل كيـدلو دي د نويو ټولنو جوړولو ته څه ارتيا محسـوسيږي؟ او آيا د مجددي صاحب نوي فورمول به دده له پخوانيو ټولنو او حكومتونو سره څه توپير ولري؟ كه فرض كړو چي دا فكتور او ائتلافونه گټور دي او د يو مسـتحكم نظام د راوستلو په لور مثبت گام وي نو بيـا د مجددي صاحب تير حكومتونه چي دي په كي جمهور رئيس او واكمن هم و ولي له ناكامي سره مخ شول او كه څه گټه او محصـول تري نه نه ترلاسـه كيږي چي حقيقت هم همدا دي او تجربو هم سودلي ده نو د مجددي صاحب دي نوي اقدام ته ضرورت څه شي دي؟ او دېته هم بايد پام وشي چي حالات هم سره پښير متفاوت دي د هغه وخت حالات داسي وو چي افغانان يو مركزي او اسلامي حكومت ته جدي اړ او سترگي په لار وو او اوس الحمد لله منظم اسلامي حكومت جوړ ، شريعت نافذ او امنيت تأمين دي نو د مجددي صاحب حكومتونو چي هغه وخت كي د بريالیتوب چانس ونه موند اسلام يي نافذ نه كړ، امنيت نه وو، غلا او چور وو نو اوس به يي له كومي كړي ؟ زموږ مشوره محترم مجددي صاحب ته دا ده چي تر اوسه يي خپل حيثيت حفظ كړي او د ولس تر منځ ځاي لري بايد ولس ته په ستونزو پيدا كولو كي ځان له ولس نه منفور نكړي كه مجددي صاحب د افغان مسلمان ولس په درد رښتوني دردمن وي نو د افغانانو منن ته دي راشي او د افغانستان په داخل كي دي داسي كار او خدمت وكړي چي په واقعي ډول يي افغانانو ته گټه ورسيږي دي كه ولس ته اخلاص ولري نو د ولس دخوښي موجوده نظام دي تقويه كړي مجددي صاحب بايد د ځو كسانو گټو ته د ټول ملت په گټو ترجيح ورنكړي كه دوي دا كار وكړي نو له رسوايي او د ناكامي تجربي دگراف له لوړولو پرته به هيڅ په لاس ورنه شي ځكه چي د ملت ملاتړ نه لري او افغـان مســلمان ولس په عمل كي ښودلي ده چي د هغـه چا تر څنگ ودريږي چي اسلام او وطن ته رښتوني مخلص وي خو كله چي اسلام او وطن ته شا او خپلو گټو ته ترجيح وركړي نو بيايي تجريد وي او د تل لپاره يي د رسوايي كندي غورځوي چي له څنو جهادي مشرانو سره چي د جهاد ، اسلام او وطن د گډو شعار يي وركاوه د ملت ملاتړ او كله يي چي له خپلو داعيو او شعارونو سره خيانت وكړ نو بيايي په مقابل كي د ملت ودريدل ددي دعوي ستر ثبوت دي.

نو په پاي كي يو ځل بيا له محترم مجددي صاحب څخه غوښتنه كوو چي د ملت تر څنگ ودريږي ملت ته ستونزي ايجاد نكړي او د بل د خوښي او گټو لپاره په لوي لاس د خپل حيـثيت وني ته تبرراوانه خلي او په دي دي پوه شي چي د اسلام او افغانانو دښمنان په شعوري يا غير شعوري ډول دي د خپلو اهدافو لپاره استخداموي .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331
Postal Add: U.P.O. Box # 1057 Peshawar - Pakistan
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press